مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ ٢٠٢۶/٠٩/٢٢

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(خلوردېرشمه برخه)



(د پاکستاني پوځ ستردرستیز، سترې او ستومان، جنرال قمر جاوېد باجوه)

**پنجابی پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(٣٠)**

**له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (٣)**

**جنرال قمر جاوېد باجوه: (له ٢٠١۶ څخه تر ٢٠٢٢ کال پورې)**

**قمر جاوېد باجوه هم یو پنجابی جنرال دی، هغه د ١٩۶٠ ز. کال د نومبر په ١١مه نېټه، په کراچۍ کې په یوه پنجابی (جټ) کورنۍ کې زیږېدلی دی چې اصلاً د پنجاب د کوجرانوالې ولسوالی ګاکر منډی سیمې څخه دی.** جنرال باجوه خپلې لوړې پوځي زدکړې په پاکستان، کاناډا او امریکا کې ترسره دي.[1]

[1]:https://www.parhlo.com/general-qamar-javed-bajwa/



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال باجوه، د پاکستان د لومړي وزير نواز شريف لهخوا، د ۲۰۱۶ز. کال د نومبر په ۲۹مه نېټه، د پوځ د ستردرستيز په توګه وټاکل شو. لومړي وزير نواز شريف نوموړی جنرال د هغه د آرام طبعيت او نورمالغړ د سبک له امله غوره کړی ؤ.[2]

نواز شريف د جنرال باجوه ظاهري بڼه او خوی باندې تېروتلی ؤ، هغه د باجوه رېښتني وړتيا په نظر کي ونه نيوله او يا نه پرې پوهېده، هغه فکر کړی ؤ چې جنرال باجوه به په راتلونکي کي د هغه پر وړاندې سرکښي نه کوي خو د پاکستان مشهور خبريال او سياسي شنونکی زاهد حسين ليکي:«دا څرګنده وه چې د پوځ د ستر درستيز په ټاکنه کي وړتيا او لوړې رتبې اهميت نه درلود.»[3]

نواز شريف نه پوهېده چې دا (پسه)طبعيته جنرال چې ده باور پرې کړی ؤ، ډېر ژر به د ده پر وړاندې په لېوه بدل شي او د ده کار به وکړي.

## په پښتني سيمو کي د پاکستان پوځي عمليات:

د ۲۰۱۷ز. کال په جولای کي د جنرال باجوه تر قوماندې لاندې په ټول پاکستان کي د ترهګری ضد عمليات د **(ردالفساد)** او **(خيبر-۴)** په نوم پيل شول.

د جنرال باجوه د ردالفساد او خيبر-۴ عملياتو تر ۲۰۲۱ز. کال پورې دوام وکړ خو د باجوه دغو عملياتو سرچپه پايله لرله، د دې پر ځای چې د ټيټيپي بريدونه، (لکه څرنګه چې د جنرال راحيل شريف پر مهال د ضرب عضب عملياتو له امله کم شوي وو) برعکس لاپسي ډېر شول. **په ۲۰۲۲ز. کال کي د وسلهوالو بريدونو شمېر ۶۰ سلنه زيات شول چې د درو مياشتو په اوږدو کي د ۱۳۲ وسلهوال بريدونو راپور ورکړل شوی و چې يوازې د نومبر په مياشت کي ۵۰ بريدونه شوي وو.**[4]

له ډيورنډ کرښي ها خوا د ټيټيپي وسلهوال هغه مهال لاپسي پياوړي او ځواکمن شول چې کله په افغانستان کي جمهوري نظام سقوط وکړ او يو شمېر د ټيټيپي سرتيري چې د جمهوريت پر مهال بنديان وو له بنده خوشي او له ټيټيپي سره يو ځای شول.

بله دا چې کله امريکايان له افغانستان څخه ووتل او جګړه پای ته ورسيده، د ټيټيپي ډېر غړي چې په افغانستان کي جګړيدلي او پر پرمختلليو امريکايي، غنيمت شويو وسلو سمبال وو، هم له خپلو ملګرو سره يوځای شول او له ډيورنډ کرښي ها خوا يې د امريکا پر متحد، پاکستاني پوځ باندې سخت بريدونه پيل کړل چې په لنده موده کي يې پاکستانی پوځ د سولې خبرو ته اړ کړ.

د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ز. کلونو په اوږدو کي جنرال باجوه، د افغانستان د اسلامي امارت په منځګړيتوب، پاکستاني پوځ او د ټيټيپي وسلهوالو تر منځ د سولې خبرو په ترڅ کي اوربند رامنځ ته شو چې دا

---

[2]: https://web.archive.org/web/20161127023423/http:uk.reuters.com/article/uk-pakistan-military-idUKKBN13L0KU
[3]: https://www.dawn.com/news/1853707
[4]: https://www.dawnnews.tv/news/1192953


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خېر و لولئ

اوربند د باورجوړوني په موخه ؤ خو د دغي اوربند په موده کي ټيټيپي يو ځل بيا په خپلو سيمو کي خپل شتون ټينګ او پياوړی کړ[5] او راتلونکو جګړو ته يي ځان چمتو کړ.

سربېره د ټيټيپي پر بريدونو، د داعش خراسان ډلي په پاکستان کي د شعيه‌ګانو او نورو مذهبي لږکيو پر عبادتځايونو او زيارتونو باندې سخت خونړي بريدونه وکړل او د بلوڅ آزادیغوښتونکو وسله‌والو له‌خوا هم په ټول پاکستان کي د پوځيانو او پنجابيانو پر وړاندې وژونکي بريدونه ترسره شول چي مخنيوی يي د جنرال باجوه له وسه تېر کار ؤ.

## ټاکني: د جنرال باجوه له لومړي وزير  نواز شريف سره مخالفت

جنرال باجوه چي د لومړي وزير نواز شريف له خوا د پاکستان د پوځ ستردرستيز ټاکل شوی ؤ، لږ وروسته جنرال باجوه، د خپل عادت له مخي، (لکه د نورو پاکستاني جنرالانو) د لومړي وزير نواز شريف پر وړاندي پورته شو. د باجوه او نواز شريف ترمنځ مخالفت پر نورو مسايلو برسېره، يو عامل دا ؤ چي لومړي وزير نواز شريف هڅه کوله پخوانی پوځي ديکتاتور، جنرال پروېز مشرف د اساسي قانون د ماتولو په تور محاکمه کړي خو جنرال باجوه او د جنرال مشرف پلوي پوځيان د خپل يو پخواني مشر له دا ډول سپکاوي او محاکمي سره په کلکه مخالف وو.

د مخالفت بله وجه دا کيدای شي چي نواز شريف نه غوښتل جنرال باجوه د دويم ځل لپاره په ناقانونه توګه د پوځ د ستردرستيز په څوکۍ پاتي شي (چي عمران خان دا ډول ژمنه له باجوه سره کړي وه.) هغه وو چي د جنرال باجوه په زيار، نواز شريف او د هغه کورنۍ په مالي فساد تورنه شوه، ۲۰۱۶ز. کال ؤ چي د (پاناما اسنادو) په نوم چي په (پاناما) کي د يو حقوقي شرکت له‌خوا د نړۍ د ځينو مشهورو کسانو او سياستوالو اړوند، په ميليونونو پټ اسناد افشا شوي وو چي په هغو اسنادو کي د نواز شريف د درو تنو اولادونو: مريم نواز، حسن نواز او حسين نواز نومونه په کي راغلي وو، په اسنادو کي ويل شوي وو چي د نواز شريف اولادونه په بهرنيو هيوادونو لکه د انګلستان د ويرجين په ټاپوګانو کي پټ شرکتونه لري او د دغي لاري يي په لندن کي ګرانبيه لوکس اپارتمانونه پيرودلي دي.

## په ټاکنو کي له عمران خان سره د پوځ مرسته او مخالفتونه

د پاکستان د (تحريک انصاف) ګوند مشر عمران خان او نور مخالفين د جنرال باجوه په لمسون و هڅول شول چي پر نواز شريف د اداري فساد او پيسو منځلو تورونه ولګوي.

په پای کي د پاکستان ستري محکمي د نواز شريف او د هغه د کورنۍ په اړه پرېکړه وکړه چي د **(تور قاضي)** له پرېکړه بل څه نه شو ورته ويلی.

په اصل کي پر نواز شريف باندې په لندن کي د ملکيتونو په اړه تورونه لګول شوي وو خو د ۲۰۱۷ز. کال د جولای په ۲۸مه نېټه، د پاکستان ستري محکمي نواز شريف له دي امله نااهله وباله چي هغه په

---

5: https://www.aljazeera.com/news/2022/11/28/pakistan-taliban-ends-ceasefire-with-govt-threatens-new-attacks


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

۲۰۱۳ز. کال کې د ټاکنو پر مهال، په دوبی کې د يو شرکت (Capital FZE) څخه د خپلې تنخوا د نه اخيستلو مالومات نه وو ورکړي. محکمې دا کار د قانون خلاف او د صداقت نشتوالی وباله.

**لنډه دا چې د فساد ضد محکمې خپله وروستۍ پرېکړه صادره کړه: نواز شريف يې په ۱۰ کاله بند او ۱۰.۶ ميليونه ډالرو نغدي جريمه محکوم کړ. د هغه لور، (مريم نواز) يې په ۷ کاله بند محکومه کړه او د نواز شريف زوم (کپتان صفدر) يې په ۱ کال بند محکوم کړ.**
نواز شريف تر پايه دا تورونه ونه منل، هغه ټينګار کاوه چې دا پرېکړې سياسي انګېزه لري او د پاکستان د پوځ په غوښتنه او خوښه شوي دي.

جنرال باجوه غوښتل په خپله دنده د درو کلونو لپاره نور هم پاتې شي چې دا يو ناقانونه کار ؤ. بلې خوا عمران خان چې د پاکستان تحريک انصاف ګوند مشر ؤ، د ۲۰۱۸ز. کال د ټاکنو پر مهال له جنرال باجوه سره ژمنه کړې وه چې که هغه د پاکستان لومړی وزير وټاکل شي او په ټاکنو کې مرسته ورسره وکړي نو هغه به د ده د ستردرستيز د دندې موده اوږده کړي.
د جنرال باجوه د دندې پر مهال، جنرال فيض حميد چې د آی‌اېس‌آی رييس ؤ، [اوس‌مهال په زندان کې دی] د لومړي وزير نواز شريف په لرې کولو او د ۲۰۱۸ز. کال په ټاکنو کې د انتخاباتي لاسوهنې په برخه کې خورا مهم رول ولوباوه چې په پايله کې د پوځ د مشر باجوه د خوښې کس، عمران خان د پاکستان د لومړي وزير په توګه واک ته ورسېد.[6]

د ۲۰۱۸ز. کال د جولای په ۲۵مه نېټه، په پاکستان کې سراسري ټاکنې ترسره شوې. **دغه ټاکنې د پاکستان په تاريخ کې تر ټولو ناپاکې ټاکنې بلل شوې دي.**[7] د باجوه تر مشرۍ لاندې پوځ تورن شو چې په ټاکنو کې يې لاسوهنه کړې او د عمران خان د (PTI) ګوند د بريا لپاره يې لاره هواره کړې ده او د نوازشريف د (مسلم ليګ. ن) ګوند پر وړاندې (چې له جنرال باجوه سره يې مخالفت درلود) برياڼلی شو.

جنرال باجوه کلک هوډ کړی ؤ چې نواز شريف له خپلې دندې ګوښه کړي، هغه په ډاګه منلې وه چې نواز شريف به د لومړي وزارت له مقام څخه لرې کوي. خبريال **(زاهد حسين)** د ۲۰۲۴ز. کال د اګست په ۲۱مه نېټه، په **Dawn ورځپاڼه** کې وليکل چې په ۲۰۱۶ز. کال کې د جنرال باجوه په يوه خبري ناسته کې، يو خبريال له باجوه وپوښتل چې که لومړی وزير[نواز شريف] له دندې لرې کړای شي، څه به پېښ شي؟ باجوه په ځواب کې وويل: **هيڅ به ونه شي، هغه مهال هم هيڅ ونه شول چې موږ بوټو په دار وځړاوه.»**[8]

[6]: https://ispr.gov.pk/press-release-detail?id=2550
[7]: https://www.bbc.com/news/world-asia-44923565
[8]: https://www.dawn.com/news/1853707


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

لکه څرنګه چې عمران خان ژمنه کړې وه چې د جنرال باجوه د دندې موده به غځوي نو د ۲۰۱۹ز. کال د اګست په ۱۹مه نېټه يې د جنرال باجوه د دندې موده د درو کلونو لپاره وغځوله خو د پاکستان سترې محکمې دغه درې کلنه موده وځنډوله.

د پاکستان د پيدايښت راهيسې، د هغه هېواد د ملکي حکومتونو ټولې برخې د پوځ تر اغېز لاندې دي ځکه خو د پاکستان سترې محکمې د جنرال باجوه دنده د ۶ مياشتو لپاره اوږده کړه، دا يې هم وويل چې پارلمان دې د پوځ د ستر درستيز د دندې د غځولو يا بيا ټاکلو په اړه قانون رامنځ ته کړي چې وروسته پارلمان هم د پوځ قانون تعديل او د باجوه دنده د درو کلونو لپاره اوږده شوه.[9]

پاکستاني پوځي مشران چې بل کاروبار نه لري، ټول عمر يې په دې تېر کړ چې په ټاکنو کې درغلي وکړي او لومړي وزيران وټاکي او بيا يې له دندو ګوښه کړي. جنرال باجوه چې د ۲۰۱۸ز. کال په ټاکنو کې له عمران خان سره د جوړجاړي په بدل کې مرسته کړې وه، مخکې له هغې چې د عمران خان د لومړي وزارت موده پای ته ورسيږي، څو ورځې دسيسې يې ورته جوړې او له دندې يې ګوښه کړ.

د عمران خان او باجوه تر منځ له اختلافاتو څخه يو هم د آی‌اېس‌آی مشر، جنرال (فيض حميد) بدلول وو چې باجوه غوښتل هغه له خپلې دندې بدل کړي خو جنرال فيض حميد چې له عمران خان سره يې په ټاکنو کې د باجوه په امر مرسته کړې وه او عمران خان د هغه له دندې خوښ ؤ، نه يې غوښتل فيض حميد له دندې لرې کړای شي.

د عمران خان او باجوه بل مخالف هغه ؤ چې لومړی وزير عمران خان د اوکراين او روسيې د جګړې په پيل کې مسکو ته سفر وکړ چې د عمران خان دا کار د جنرال باجوه، پوځ او امريکايانو له‌خوا په بده ومنل شو. جنرال باجوه د روسيې پر وړاندې د عمران خان د سياست خلاف دريځ ونيوه.

عمران خان لا له وړاندې امريکايانو نه خوښاوه، عمران په ۲۰۱۲ز. کال، د اکتوبر په ۱۰مه نېټه، په يوه خبري ناسته کې ويلي وو:**«څوک چې په افغانستان کې له بهرينو اشغالګرو [امريکايانو] پر وړاندې جګړه کوي، جګړه يې جهاد دی.»**

همدا رنګه باجوه د پاکستان مخ‌پرځوړ اقتصادي حالت پړه پر عمران خان واچوله چې دا حالت د عمران خان د ناکامۍ له امله رامنځ ته شوی دی، باجوه دا هم وويل چې عمران په کوردننه له اپوزيسيون سره د سخت دريځ غوره کول د دې عامل شوی چې هېواد بې‌ثباته کړي.

د ټاکنو پر مهال پوځ اعلان وکړ چې نور به په سياست کې بې‌پرې وي. عمران چې د پوځ په مرسته لومړي وزارت ته رسيدلی ؤ، وويل چې دا بې‌طرفي په اصل کې د ده د حکومت د پرځولو او د اپوزيسيون د ملاتړ مانا لري.

---

[9]: https://www.dawn.com/news/1527033


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د عمران پورته وینا ربنتیني وه ځکه چې په پاکستان کې چې پوځ د ملکي حکومتونو تر شا نه وي هغه حکومت پایښت نه لري. هغه وو چې باجوه د نواز شریف وررور شهباز شریف او آصف زرداري چې د اپوزیسیون مشران وو، د عمران خان د پرځولو لپاره ولمسول او **د ۲۰۲۲ز. کال په اپرېل کې د پاکستان (پارلمان) د بې‌باورۍ د رايې له لارې په رسمي توګه له دندې ګوښه کړ.**

عمران خان وویل چې د ده د ګوښه کولو تر شا د امریکا متحده ایالاتو لاس ؤ، ځکه ده خپلواک بهرنی سیاست درلود خو وروسته يې بیا په خپلو څرګندونو کې وویل چې اصل پلان پخپله د جنرال باجوه لخوا جوړ شوی ؤ او امریکا ته يې غلط مالومات ورکړي وو.

عمران خان په ۲۰۲۴ز. کال کې له مهدي حسن سره په یوه مرکه کې وویل:**«زما یوازینی پښېماني دا ده چې پر باجوه مې باور کړی ؤ.»** هغه باجوه تورن کړ چې نوموړي د دویمې دورې د ناکامۍ لپاره يې د دروغ روایتونه جوړ کړي وو.[10] په داسې حال کې چې عمران خان د جنرال باجوه د بیا ټاکلو پر مهال ویلي وو:**«تر باجوه زیات متوازن او ډیموکرات بل څوک نه شته.»**[11]

کله چې عمران خان د لومړي وزارت له مقام څخه لرې کړای شو، د هغه د ګوند، (PTI)، پلویانو په ټویټر باندې د جنرال باجوه د پوځ د ستردرستیز له مقام څخه د استعفا غوښتنه وکړه. **د باجوه پر ضد د (غدار) په نوم د ټویټر خپرېدونکي بحثونه له یو میلیون څخه ډېر ټویټونو ته ورسېدل.**[12]

نېټه: ۱۴۰۵/۶/۳۱ل. ل

**نور بیا**

[د ښاغلي محمد انور اڅړ نوري لیکنې په دی لینک کې ولولی.]()

10: https://www.dawn.com/news/1836628
11: https://dailytimes.com.pk/505098/pm-calls-gen-bajwa-best-army-chief-report/
12: https://www.dawn.com/news/1693238/riding-the-social-media-tiger


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ